


# یــوه ســیــمه یوه لاره (one belt and one road)

د چیـن پــه ســر ښــار بیجنګ کښې د مئ ۲۰۱۷ء په څوارلسمه نېټه ,,د یوه سیمه یوه لار،، (one belt and one road) پــه نــامــه یو کــانـفـرنـس وشـو. د دې کانفرنس صدارت د چین صدر ژي چن پنګ وکړو. په کانفرنس کښې د ۲۹ هېـوادونـو د مملکت یا د حکومت سر مشرانو او د ۱۳۰ ملکونو پینځلس سوو (۱۵۰۰) نمائندګانو ګډون وکړو.

یـــاده دې وي چې د چیـــن د اولســـي جـمـهـوریت او پاکستان ترمېنځه د مخکښې نه د پـاکسـتـان چین اقتصادي راهدارۍ (CPEC) په نـامـه د یـوې اقتصادي لیکې د جوړولو لوظنامې شوې دي. چین به دې لړ کښې پاکستان کښې ۴۲ ارب ډالـرو سرمایه کاري کوي. او ,,د یوې سیمې یـوې لارې،، په لړ کښې د ۱۲۴ ارب ډالـرو د خرڅ کولو اراده لري.

چیـن د نړۍ د یـو نوي اقتصادي طاقت په حیـث مېـدان تـه راوتـے دے. د چیـن د خـارجـه کړنـلارې ړومبۍ تـرجیـح ټـولـه نړۍ کښې د اقتـصـاد پـه مېدان کښې د پښو مضبوطولو دپاره لارې ګـودرې کتـل دي. چین غواړي چې ټوله دنیا دې د دۀ د مـصـنـوعـاتـو بـازار وي. چین کښې د کـمیـونسټ پارټۍ یو طاقتور حکومت دے ولې د چیـن ټـولـه پـالیسـي د چیـنـي نیشنلزم (قـام پروري) نه تاوېږي. چین لکه د امریکې یا د نورو یـوروپـي هېوادونو د دنیا په غریبانانو د خېراتونو ویشـلـو یـارانـه نۀ کوي بلکې د تجارت په مېدان کښې لاسـونـه غـزوي. او کوشش ئې دا دے چې د نړۍ پـه هـره بـرخـه کښې هـر بازار کښې سرمایه کاري وکړي.

د چیـن دا مـنـصـوبه ده چې د پاکستان په لاره څـان بحرهند او خلیج فارس یا خلیج عرب ته ورسـوي او دغـه شان د دنیا ګنو هېوادونو ته خپله

سمندري لاره لنډه کړي. دې منصوبې ته ئې په ظاهره د يويشتمې صدۍ د سمندري شاهراهِ ريشم (21 Century Maritime Silk Rout) نوم ورکړے دے.

چين د نړۍ ټولو ملکونو ته يوې سيمې يوې لارې (one belt and one road) منصوبه کښې د برخې اخستو بلنه ورکړې ده. په دې اساس د بيجنګ کانفرنس کښې ۲۹ هېوادونو د مملکت يا حکومت مشرانو ګډون وکړو او ۱۳۰ ملکونو د دې کانفرنس نه د نمائندګانو په ذريعه ځان جدا ونۀ ساتلو.

پاکستان د خپلې خارجه پاليسۍ په اساس د دې منصوبې يو جذباتي او کلک حصه دار دے او په پټو سترګو چين ته په خپله خاوره هغه ټول سهولتونه ورکولو ته تيار دے کوم چې چين غواړي. داسې برېښي چې پاکستان به د دې منصوبې په فائدو او نقصاناتو روستو غور کوي.

چين د پاکستان حريف بهارت ته دې منصوبه کښې د راګډېدو بلنه هم ورکړې ده او ورسره ئې دا پېش کش هم کړے دے کۀ چرې هند د پاک چين اقتصادي ليکې (CPEC) نوم بدلول غواړي نو په دې هم چين غور کولو ته تيار دے. په پاکستان د چين دا پېش کش ډېر بد ولګېدو او چين نه په وضاحت غوښتو مجبور شو.

دې لړ کښې نۀ خو د چين وضاحت تراوسه مخې ته راغلے دے او نۀ بهارت ته د چين د پېش کش په لړ کښې د بهارت د جواب څه پته ولګېده. البته د بيجنګ کانفرنس کښې د بهارت لوړ رتبه جرګه ونۀ ښکارېده. داسې برېښي چې بهارت يا خو څه تحفظات لري او يا چين سره په دغه لاره تلو ته تيار نۀ دے. دلته دا حقيقت هم په ګوته کولو نه ډډه نۀ دې کول پکار چې بهارت ته دې منصوبه کښې څه فائده نۀ ښکاري. ګنې بهارتي واکمن پلار په نيکۀ تاجران دي او په هر قدم ئې کوشش دا دے چې ځان ته ترخز ووهي.

بله دا چې بهارت په دې پوهېږي چې سي پيک (CPEC) د لاهور خواوشا تېرېږي او چې کله هم د پاکستان او بهارت ترمېنځه اړيکې ښې شي نو د دغه لارې نه په اسانه استفاده کولے شي. د چين مخکښې هم دغه منصوبه ده ځکه خو ټوله توجو د پښتونخوا او بلوچستان په ځائې پنجاب ته ورکړے کېږي. د چين او بهارت ترمېنځه بله يا نورې لارې موجود دي. دغه شان بهارت څه په خشکۍ کښې ګېر ملک نۀ دے. چين او بهارت چې کله وغواړي يو بل سره تجارتي هلې ځلې تندولے شي. دغه حال د پاکستان او بهارت هم دے. البته مرکزي آسيا ته بهارت هله په اسانه د اوچې په لار ځان رسولے شي چې پاکستان ورسره ملګرتيا وکړي.

د پاکستان چين اقتصادي لارې په حق له خو د پاکستان واکمنو او ورسره ورسره ميډيا دومره زياته پروپېګنډه وکړه چې ګوندې د دې

منصوبې سرته رسولو سره به پاکستان کښې د شودو نهرونه بهېدل شروع شي. پاکستان به د صنعتونو مرکز شي. دا به د ټولې دنیا دپاره تجارتي لاره جوړه شي. خو رو رو د پاکستان اقتصادي ماهرانو په سړه سینه د دې منصوبې جاج اخستل شروع کړل. اوس د هرې خوا د دې منصوبې په حق له قسم قسم تنقیدي رائې مخې ته راځي. د اکثرو ماهرینو دا خیال دے چې د دې منصوبې ټولې فائدې به چین ته رسي. خو پاکستان ته ئې څه نقصان نشته. ځینې خلق خو دې انتها ته رسېدلي دي چې د دې انجام به لکه د ایسټ انډیا کمپنۍ د بریالي توبونو په شان وي. خو دا رائې لرونکي د چین د خلقو او انګریزانو صلاحیتونو او مزاجونو کښې فرق نۀ شي کولے. د سیکورټي او دفاعي ماهرانو لخوا هم تحفظات مخې ته راغلي دي دوي هم ځینې وضاحتونه غواړي او تجویزونه لري. قومي مفاداتو ته د اولیت ورکولو خبرې هم کېږي. د ځینې مخالف طاقتونو رویه هم د نظر نه د غورځولو نۀ ده.

کۀ چرې په دې ټولو تحفظاتو غور ونۀ شي نو دا به ذمه وارانه رویه نۀ وي ځکه چې قومي مفادات او د ملک سیکورټي د هر څه نه زیات اهمیت لري. د مخالف قوتونو رویه هم تر نظره ساتل ضروري دي ځکه چې دا رویه پاکستان ته نقصان رسولے شي. خو د دې ټولو تحفظاتو مقصد دا کله هم نۀ دے چې پاکستان دې د بل یا د پردو مفاداتو د تحفظ په قیمت خپل مفادات د لاسه ورکړي. باید چې د پاکستان واکمن د یو آزاد او خپلواک هېواد د نمائندګانو په حیث هر قدم په احتیاط اوچت کړي. تجارتي هلې ځلې او اقتصادي سرګرمۍ دې خپلو حدودو کښې وساتي. د پاکستان سلامتیا (Security) روایاتو، کلتور،مذهب او ملي یو والي حفاظت د حکومت او ریاست اولنۍ ذمه واري ده.

## د پاکستان او افغانستان اړیکې

د مئ په څلورمه نېټه د چمن په مقام د پاکستان او افغانستان ترمېنځه د تګ راتګ لویه لاره یو ځل بیا وتړلے شوه. د دې لارې د تړلو ضرورت هغه وخت د پاکستان سیکورټي فورسز یعنې امنیتي ځواکونو محسوس کړو کله چې د افغانستان د سرحدي پولیسو او پاکستاني فوځیانو ترمېنځه په یو بل ګولۍ وورولے شوې. خبرونو کښې وئیلے شوې دي چې په پوله پروت یو کلي کښې د پاکستان د حکومت د خوا د سر شمېرنې کار روان ؤ چې د افغانستان سرحدي پولیسو پرې ډزې وکړې او د امنیتي اهلکارو په شمول ئې ځینې کلي وال ووژل.دغه شان ګڼ کسان ژوبل هم شول. روستو بیا د پاکستان امنیتي ځواکونو جوابي کاروائي وکړه او د پاکستان د فوځي چارواکو مطابق ئې پنځوس

افـغـان امـنيتـي اهـلـکار ووژل. خو د افغانستان حـکـومـت د دې دعـوې ترديد وکړو. د پـاکسـتـان خـارجـه وزارت د دې ترديد په جواب کښې ووئيل چې کۀ د افـغـانستان نقصان کم شوے وي نو دا ښه خبره ده. د دواړو حکومتونو رويه او بيانونه دې لړ کښې ډېـر محتاط ښکاره شول ولې د دې کرښو تر ليـکـلـو د چـمن په مقام د افغانستان او پاکستان لويه لاره لا تړلې وه.

پـوښتنه دا ده چې دا پېښه څنګه مخې ته راغله. ځکه چې د دې پېښې نه ورځ دوه مخکښې د پـاکسـتـان د استـخـبـاراتـي ادارې ISI مشـر د افـغـانستان سفر کړے ؤ او د افغانستان لوړ رتبه واکـمنو سره ئې په امنيتي چارو خبرې اترې کړې وې. د دې نـه دوه ورځې مـخـکښې د پاکستان يو لـويـه پارليماني جرګه کابل ته تلې وه. دا جرګه د خپـل قسم يو تاريخي جرګه وه. دې جرګه کښې د پـاکسـتـان د سـر سـر سيـاسي مشران شامل وو. د جـرګې غړو د خپـلې دورې نــه پـس د ډېرو مثبتو خيـالاتـو څرګندونه کړې وه او دا هيله ئې څرګنده کړې وه چې د پـاکسـتـان او افـغـانستان ترمينځه تـړولې سيـاسـي چـارې تر کافي حده د بحث لاندې راغـلې دي او د مـخـکښې تګ دپـاره لاره هواره شوې ده.

د ISI د مشـر دوره هـم د دغـه پـرمختګ تسـلسـل ؤ. اګـرچې د افـغـانستان د اولس مشر د وياند د خوا يو بيان خور شو چې ډاکټر اشرف غني به د پاکستان دوره هله کوي چې پاکستان په خپله خـاوره افـغـانستان کښې جنګي عمليـاتو کښې د ککړو خلقو مرکزونه وتړي. ولې ورسره ورسره دا خبـر هـم مخې ته راغلو چې د اشرف غني د دورې نه مخکښې به ميا محمد نوازشريف د افغانستان دوره کـوي. دا خبـر هـم خـور شو چې د افغانستان (Chief EXecutive) ډاکټـر عبـدالله عبدالله بـه ډېـر زر پـاکسـتـان تـه راشي. هر څومره کۀ دې خبرو ګډې وډې معنې لرلې ولې اميد پېدا شوے ؤ چې د دواړو هېـوادونو فائده په دې کښې ده چې يو بـل سـره کيـنـي او کم نه کم د خلقو ترمينځه تګ راتګ او تـجـارتـي اړيـکې په ځائې کړے شي. د لارو بندولو رجحان ختم شي. او په يو بل د باور او اعتماد کولو فضا جوړه شي.

د پـاکسـتـان او افـغـانسـتـان تـرمينځـه د ډيورنډ د کرښې لانجه څه نوې نۀ ده. او نۀ سرحدي شخړې مينځ ته راتلل څه عجيبه خبره ده. د نړۍ د ټـولـو ګـاونډي هېـوادونـو ترمينځـه دغـه رنګ شـخړې هـر وخت او هر دور کښې موجودې وي. د پـاکسـتـان او افـغـانستان په پوله چونکې د يو قوم خـلـق وسېږي نـو ځـکـه دا قسمـه شخړې بـه تل مـوجـود وي خـو حـکـومتونه به دا شخړې د خبرو اتـرو د لارې هـواروي. د تېرو څو لسيزو په دوران کښې د افغانستان د حالاتو او پاکستان د حکومت د پاليسو په نتيجه کښې د پاکستان او افغانستان سـرحد يو نوے شکل اختيار کړے ؤ. د خلقو تګ

راتګ کښې هيڅ قســـمــه خنډ نۀ ؤ. حتــی چې د پــاسپــورټ او ويــزې ضــرورت هــم نۀ ؤ. بلکې د شــروع نــه د پــاکستــان او افــغـانستــان د خلقو تــرمېــنځــه تګ راتګ او تــجارتي هلې ځلې هغه شــان نۀ وې ځـنګــه چې د نورو هېوادونو ترمېنځه وي. د پــاکستـــان او افــغـانستان سرحدي چارې يو ځانګړې حيثيت او خصوصيت لري.

بــايــد چې دې تــه په خصوصي نظر وکتے شــي. بله دا کۀ څه شخړه يا معامله مخې ته راځي نــو د دې هــوارے پــه سيــاسي لاره کېدے شي. نۀ چې د ډز ډوز پـــه لاره. دواړو هېـــوادونـــو کښې سيـــاســـي او انتـــظـامــي ادارې مــوجــود دي. يــو ميــکيــنزمهم شته کۀ چرې امنيتي ځواکونه د دې نــه ځــان يــو طــرف تــه وســاتي نو دا بــه د دواړو هېــوادونــو پــه ګټــه وي البته سياسي او انتظامي ادارې چې څــه فېــصــله وکړي امنيتي ادارې به په دې د عمل کولو پابند وي.

ضـــرورت د دې خبـــرې دے چې د دواړو هېــوادونــو واکمن د خپلو ذمه وارو احساس وکړي او پــه يــو بــل د بــاور کــولــو فضا جوړه کړي. سره کيــنــي او په دې حقيقت ځان پوهه کړي چې نۀ خو په يو بل تورونو پورې کولو نه څه جوړېږي او نۀ د يــو بــل پـــه کــورنيــو چــارو کښې لاسوهنې سره مسئلې هوارېدے شي.

پــاکستــان او افغانستان د يو بل ضرورت دے. کۀ چــرې د دې دواړو هېــوادونــو تــرمېنځــه تــعــلقات خراب وي نو دا د دواړو هېوادونو د خلقو نقصان هم دے او د دواړو مملکتونو سياسي تاوان هم دے.

# د ايراني فوځ د سرلښکر پاکستان ته دړکه او د اسفنديارولي خان بيان ته يوه کتنه

په ۲۱مــۍ د عــوامي نيشنل پارټۍ صدر محترم اسفنديارولي خان کراچۍ کښې يوې درنې اولسي ريلي ته د خطاب کولو په وخت ووئيل چې پــاکستان خپلو څلورو ګاونډيانو کښې صرف د يو ګاونډي سره دوستانه اړيکې لري.

د مــحتــرم اســفــنديارولي خان اشاره هغه صورت حال طرف ته وه کوم صورت حال چې تېرو څــو ورځــو راهسې د ايــران او پاکستان ترمېنځه د تــاوتــريــخــوالــي په نتيجه کښې پېدا شوے دے. ځــکه چې د بهارت او افغانستان سره په سرحدونو د افســوس نــاک صورت حال نه هر څوک خبر دي. او چيــن ســره د پاکستان د تعلقاتو نه هم ټوله دنيا خبر ده.

ياده دې وي چې د مۍ په اته نيټه د ايران د زمــکـنـي فوځ سرلښکر په پاکستان دړکه کړې وه کۀ چــرې د پــاکستـــان د خــاورې نــه ايران کښې د تــرهګــرۍ بريدونه بند نۀ شول نو ايراني فوځ به د ترهګرو خلاف هر چرته کاروائي کوي.

ايــران د څــه مــودې راهسې پاکستان نه دا

شـکـایـت کـوي چې ځینـي وسلـه والې ډلې ایران کښې د تـرهګـرۍ عـملیاتو کښې ککړې دي او د ایـران پـه قـول د دغـه تـرهګرو مرکزونه پاکستان کښې دي. پـاکستـان په پرله پسې ډول دا الزام رد کوي او وائي چې هیڅ چاته به دا اجازت نهٔ ورکړے کېږي چې د پـاکستـان زمکه د ایران یا بل ګاونډي خـلاف استـعمال کړي. د دې باوجود د پاکستان او ایران ترمېنځه تاوتریخوالے کم نهٔ شو.

ایـران د پـاکستـان یـو داسې خوږ ګاونډي دے چې هیڅ څـه سـرحدي شخړه ورسره نهٔ لري او نهٔ ئې ورسـره څه تاریخي یا روایاتي تاوتریخوالے شتـه. د دواړو هېـوادونو د یو بل سره د سیاسي او اقتـصـادي مـفاداتو څه ستونزه هم نشته. د دواړو مـلـکـونـو ترمېنځه په ریاستي بنیادونو هیڅ څه شـخړه وجود نهٔ لري. اوس په دې حقیقت هر څوک خبـر دي چې پـاکستـان کښې داسې غیـر ریاستي قـوتـونه موجود دي چې د پاکستان دپاره په سیمه کښې مشـکلات پېدا کوي. خو کهٔ چرې د مسئلې جـاج پـه ژور نـظـر واخستـے شي نو دا حقیقت به وبرېښي چې په سیمه کښې دا حالات ایران کښې د مـذهبي انقلاب نه پس پېدا شوے دے. دغه شان د پـاکستـان او افغانستـان ترمېنځه هم داسې خاصه شـخړه مـوجود نهٔ ده چې په پوله داسې حالات پېدا شـي لـکه څنګه چې پېدا شوې دي. د پاکستان او افـغـانستـان تـرمـېـنـځـه د تـاوتـریخوالي بنیادي وجوهات غیر ریاستي عناصر دي.

ضـروري نهٔ ده چې د ټـولـو خـرابو حالاتو ذمـه وار دې پـاکستـان وي. ولې په دې حقیقت هم سترګې نهٔ شي پټېدے چې پاکستان کښې مذهبي انتهـاخوښي اخري حدونو ته رسېدلې ده. او د دې انتهـا خـوښۍ مخنیوي کولو کښې حکومت پاتې راغلے دے. د دې وجوهات سیاسي مصلحتونه هم دي. د پـاکستـان مـذهبـي ګـوندونـه د ملک پـه سیـاست کښې اثرناک کردار لګیا دے ادا کوي. او دغـه مذهبي ګوندونه د انتها خوښۍ غندنه قدرې هـم نهٔ کـوي بـلـکې ځینې وختونو کښې خو دغـه ګوندونه د انتها خوښۍ مرسته هم کوي.

مسـلـکـي او فـرقه ایز اختلافات ورځ تر ورځــه پــه زیــاتېدو دي. دا اختلافـات د اسلام د بـدنـامۍ هـم سبـب جـوړېږي او نهٔ صرف ملک ته تـرې په داخلي مېدان کښې نقصان رسي بلکې په خـارجـي محاذ هم ملک ته مشکلات پېدا کېږي. دې لړ کښې د پـاکستـان پـه واکـدارانو زیاته ذمه واري پـریـوځـي بـایـد چې حـکومـت د محتـرم اسـفـنـدیـارولي خان بیان ته غوږ ونیسي او د دې مسـئـلـې د هواري دپاره لارې پېدا کړي. ځکه چې نـن د پـاکستـان د درې ګـاونډي مـلکونو سـره سرحدونه محفوظ نهٔ دي.

# عبدالولي خان یونیورسټۍ کښې تعلیمي سرګرمۍ یو ځل بیا

عبدالولي خان پوهنتون مردان کښې تعلیمي سـرګرمۍ د ۲۲ مئ ۲۰۱۷ء نـه دوبـاره شروع شوې. یـاده دې وي چې دا پـوهـنتـون د یوې افسوس نـاکې

پېښې نــه پــس تړلې شوې ؤ. پـه دې پېښــه کښې د پـوهنتون د صحافت د شعبې يو طالب علم مشال خان وژلې شوې ؤ. په مثال خان دا تور پورې کړې شوې ؤ چې دۀ د مـذهب سپکاوې کړې ؤ. ولې د پوليسو او د پوهنتون د استاذانو د وينا مطابق دې کله هم د مذهب د سپکـاوي په جرم کښې ککړ نۀ ؤ. د مشال خان د قتل پـه جرم کښې تر دې دمه ۵۷ مـلزمان نيول شوې دي. سپـريـم کورټ د دې افسوس ناکې پېښې په لړ کښې په خپله نوټس اخستې دې او د تفتيش نګراني کوي.

د مئ په ۲۱ تـمه نېټه د مشال خان کلي زيده (صـوابۍ) کښې د هـغۀ د څلويښتې دستوره وشوه. دې دسـتـوره کښې پــه ګڼ تـعـداد کښې خـلقو ګډون وکړو. د شهيـد مشال خان په قبر ئې فاتحه ولوسته او د هـغۀ روح تــه د ثـواب رسـولـو دپاره قران خواني هم وشوه. دستوره کښې ګډون والو شهيد مشال خان ته د عـقيـدت پيرزونې وړاندې کړې او د حکومت نه ئې دا غـوښتـنـه وکړه چې زر تـر زره دې مـجـرمانو ته سزا ورکړې شي.

بـل اړخ تــه د مـردان ځينې سياسي او مذهبي مشـرانو د ملزمانو په حق کښې يوه غونډه هم کړې ده. دې غـونډه کښې هـغـه سياسي مشرانو ګډون کړې ؤ څـوک چې مـردان کښې د عـوامي نيشنل پارټۍ سره اختلاف لري.

عبدالولي خان يونيورسټۍ کښې د يو طالب عـلـم وژنــه په يونيورسټۍ يو تور داغ دې. ځکه چې تـعـلـيـمـي اداره د تعليم دپاره وي. دا د امن او قلارې مـرکز وي. دلته طالبعلمان د علم تنده ماتوي. دلته نۀ چې کـوم طـالبعلمان فارغ شي هغوي به د ملک واګې لاسـو کښې اخـلي. ولې عبدالولي خان پوهنتون د دې واقـعې نـه پس بند کړې شو چې يوه بله افسوس ناکه پېښــه ګڼـل پکار دي. اوس چې دا پوهنتون يو ځل بيا پـرانستې شو بايد چې د دې پوهنتون ټوله انتظاميه او تـدريسـي عمله خپله ټوله توجو تعليمي سرګرمو ته ورکړي او د پـوهنتون فضا د هر قسمه انتهاپسندۍ نه پاکه وساتي.

د مـردان ځيـنـې سيـاسـي مشـرانو چې کومه رويه خپله کړې ده دا هم ډېره افسوس ناکه ده. کۀ چرې دغه سياسي مشران د قانون شکنۍ دغه شان ډاډګيرنه کوي نو دا د ځوان نسل او د يوې لوئې تعليمي ادارې د مستـقبل سره زياتې دې. البته بې ګناه ته سزا ورکول دومـره زياتې دې څومره چې ګناه ګار د سزا نه بچ کول زيـاتـې دې. بـايد چې بې ګناه خلق تنګ نۀ کړې شي ځـکـه چې دې سره د انصاف تقاضې پوره کول متاثره کېـدې شي. ټوله معامله کۀ عدالت ته پرېښودلې شي نـو چـاتــه به هم اعتراض نۀ وي. سياسي اختلافات په خپـل ځــائې ولې داسې مـعـــاملو کښې کۀ سيــاسي مـرستــه او مخالفت شاته وغورځولې شي نو د انصاف تـقــاضې پــه اســانــه پوره کېدې شي. دې سره پــه يـونيـورسټۍ او مـــردان ښــار کښې دوامداره امن او قرارې ه په ځائې کېدې شي.

# د قبائيلي پښتنو سره لوبې لا رواني دي

د مـئ په دويمه هفته کښې د قومي اسمبلۍ غونډه په دې غـرض را وغوښتې شوه چې د وفاق د انتظام لاندې د قبـائيـلـو سيـمو په حق له چې وفاقي کابينې د يوې خـصـوصـي کـميټۍ د سـفارشاتو په رڼا کښې د کوم آئيـنـي تـرميـم فـيـصـلـه کړې وه هغه ترميم قومي

اسمبلۍ ته وړاندې کړے شي. دې فیصله کښې کابینې دا ژمنه کړې وه چې دا سیمې به په باقاعده توګه خیبرپښتونخوا کښې ضم کولے شي او د خیبرپښتونخوا اسمبلۍ کښې به د دې سیمو استوګنو ته نمائندګي ورکولے شي. ولې مولانا فضل الرحمان او محمودخان اڅکزی د دې آئینې ترمیم مخالفت په انتهائي جذباتي انداز کښې وکړو.

وفاقي حکومت دې دوه اتحادیانو ته سر ټیټ کړو او دا آئیني ترمیم ئې د نامعلومه مودې دپاره وځنډولو. داسې ښکاري چې حکومت چې د کوم ترمیمي بل د پېش کولو اعلان کړے ؤ دا ئې د قبائیلو د دباؤ په نتیجه کښې کړے ؤ. د مسلم لیګ (ن) حکومت نۀ غواړي چې قبائیلي علاقو کښې سیاسي او انتظامي اصلاحات راولي. بلکې داسې برېښي چې ځینې نور قوتونه هم شته چې هغوي دغه سیمې په تیرو کښې ساتلو کښې غرض دي. مولانا فضل الرحمان او محمود خان اڅکزے چې په کومو جدا جدا بنیادونو د ذکر شوو اصلاحاتو مخالفت کوي. د دوي د مخالفت د انداز نه هم داسې ښکاري چې د دوي په شا یو قوت موجود دے.

تاریخ،روایات او موجوده حالات دا ښائي چې قبائیلي سیمې همېشه د ناوړو مقصدونو پوره کولو دپاره په استعمال کښې راغلې دي. او په ظاهره قبائیلي پښتانۀ د دې ذمه وار ښودلے شوي دي حالانکې د دوي په اوږه پروت ټوپک د چا بل چا په لاس کښې دے. کۀ چرې دا سیمې د تیرو نه راوتې نو نۀ به صرف د دې سیمو خلق د ژوند په خوږو پوهه شي. رڼا به ووینې بلکې د دې خواږه به ټولې پښتونخوا او پاکستان ته هم ورسي.

ټوله سیمه کښې به دوامداره امن او د قرارۍ فضا جوړولو ته لاره برابره شي. خو نن مسلم لیګ (ن)،مولانا فضل الرحمان او محمود خان اڅکزے په یوه مورچه کښې ناست دي او په قبائیلي پښتنو ئې ناتاره ګولۍ ورول شروع کړې دي. د مسلم لیګ (ن) سپیکر چې د پي ټي آئي ممبرانو ته ئې توره ډال غورځولې دي ولې په قبائیلي ممبرانو داسې چړ چړ راځي لکه چې دوي د پارلیمان غړي نۀ وي.

د قومي اسمبلۍ سپیکر ایاز صادق چې د اسمبلۍ د اجلاس دوران کښې د خیبرایجنسۍ د قومي اسمبلۍ د غړي شاه جي ګل افریدي کومه بې عزتي کړې ده دا د ټولو قبائیلو او پښتنو سپکاوے دے. دې سپکاوي کښې ایاز صادق ته د مولانا فضل الرحمان او محمود خان اڅکزي ډاډ حاصل ؤ. ګنې ایاز صادق دا قسمه فکره کله هم نۀ ده استعمال کړې کومه چې محترم شاه جي ګل ته استعمال کړه.

دلته دا خبره هم د کولو ده چې د پښتنو دښمنانو تل د پښتون خلاف د پښتون په اوږه ټوپک ایښودے دے. او نن دا ټوپک د مولانا فضل الرحمان او محمود خان اڅکزي په اوږو پروت دے.

قبائیلي پښتنو سره چې د تیرو سلو کالو راهسې کومې لوبې کېږي هغه لا رواني دي. معلومه نۀ ده چې د دې نتیجه به څه وي. خو د تاریخ آئینه ډېره شفافه وي. د تاریخ آئینه هر چاته د دۀ څهره هم هغه شان ښائي څنګه چې وي.